## د بلجیم څخه د خپلې خوښې راستنېدو او بیا مېشته کېدو مرستې

د کډوالۍ چارو نړیوال اداره (اي او ام) هغو کډوالو سره چې غواړي په خپله خوښه خپل اصلي هېواد ته ستانه شي یا له هغو کډوالو سره چې یو دریم ګړي هېواد ته، چېرې چې د دوي لپاره د دایمي استوګنې ضمانت ا شوی وی، ستنېږي مرسته کوي.

[د خپلې خوښې ستنېدل څه معنی؟](#)

[د کډوالۍ چارو نړیوال سازمان (اي او ام) له ما سره مرسته کولای شي؟](#)

[دا کار څنګه امکان لري؟](#)

[چېرې کولای شم مراجعه وکړم؟](#)

[کومې مرستې به تر لاسه کړم؟](#)

### د خپلې خوښې ستنېدل څه معنی؟

د خپلې خوښې ستنېدلو پروګرام د هغو خلکو لپاره چې فکر کوي د بلجیم څخه بېرته خپل اصلي هېواد ته ستانه شي وړیا دي. که فکر کوئ چې دا ستاسو لپاره غوره دی، نو د کډوالۍ چارو نړیوال اداره (آی، او، ام) ، د فېډازیل او خپلو همکارانو په مرسته کولای شي ټولې لارې وسنجوي، لکه ستاسی د سفر د ټېکټ تنظیمات او نورې لازمې مشورې ترڅو تاسې وکولای شي د ضرورت وړ اسناد ولرئ.

### د کډوالۍ چارو نړیوال سازمان (اي او ام) له ما سره مرسته کولای شي؟

د کډوالۍ چارو نړیوال اداره (آی، او، ام) د خپلې خوښې د ستنېدلو پروګرام ټولو هغو کډوالو ته چې بلجیم کې اوسېږي پرته د هغوي د قانوني دریځه شته دي. تاسې کولای شئ چې پرته له کوم مجبوریته له مونږ سره اړیکه ونیسئ. باید ووایو چې ټول هغه موارد چې تر بحث لاندې نبول کېږي پټ ساتل کېږي. او مونږ به تاسې ته ستاسی له تګ مخکې، د تګ په جریان کې او د تګ څخه وروسته د شته مرستو په اړه معلومات درکړو.

تاسې کولای شئ هر هغه اندېښنه چې د خپل ستنېدا په هکله یې لرئ زمونږ له یو مشاور سره په ځانګړې او شخصي لیدنه کې شریک کړئ. ستاسو د لا زیاتو سوالونو د حل په موخه مونږ کولای شو ستاسې په اصلي ټاټوبي کې د کډوالۍ چارو نړیوال سازمان (آی، او، ام) د اداره له همکارانو سره په تماس کې شو. که مو پرېکړه وکړه چې په هپله خوښه خپل هېواد ته ستانه شئ، نو د کډوالۍ چارو نړیوال اداره (آی، او، ام) کولای شي ستاسې سره ستاسې د تګ په ټولو چارو کې مرسته وکړي.

### دا چاره څنګه امکان لري؟

کله چې مو د خپلې خوښې ستنېدلو پرېکړه وکړه، د کډوالۍ چارو نړیوال اداره (آی، او، ام) به تاسې سره د یوې جلسې لپاره په اړیکه کې شي چې ټول مسایل به پکښې وڅېړل شي. د کډوالۍ چارو نړیوال اداره (آی، او، ام) به تاسې سره مرسته وکړي چې خپل د تګ ټول اسناد واخلئ او همداراز به ټول هغه اړین ګامونه چې تاسې یې بابد پورته ګړئ معلومات درکړي. کله چې د تګ لپاره اماده شوئ، د کډوالۍ چارو نړیوال اداره (آی، او، ام) به ستاسی سفر تنظیم کړي. د کډوالۍ چارو نړیوال اداره (آی، او، ام) به تاسې سره د بروکسیل په هوایي ډګر کې ټولې مرستې وکړي مګر تاسې به دیو عام مسافر په توګه سفر کوئ. که چېرې ضرورت ؤ د د کډوالۍ چارو نړیوال اداره (آی، او، ام) به په هوایي ډګر کې د ټرانزیټ کې تاسې سره مرسته وکړي.

### چېرې کولای شم مراجعه وکړم؟

کچېرې تاسې د معلوماتو د ځانګو ادارهونو ته نږدې استوګن یاست، تاسې کولای شئ د همهغه ځانګې څخه غوښتنه وکړئ او د ستنېدو په هکله د نورو معلوماتو لپاره معلومات ترلاسه کړئ.

کچېرې تاسې د معلوماتو د ځانګو ادارهونو څخه لرې یاست یا کوم شخصي ځای کې استوګن یاست، تاسې کولای شئ چې زمونږ د یوی همکارې ادارې چې لېست یې په لاندې ډول دي یا هم د فېډاسل له کارمند څخه د نورو معلوماتو لپاره په اړیکه کې شئ.

مهرباني وکړئ د خپل استوګنځي سره نږدې زمونږ له همکارې ادارې څخه د اړیکو لپاره معلومات واخلئ.

**د ستنېدو او بیا مېشته کېدو په اړه د هر ډول معلوماتو لپاره په لاندې ادرس په اړیکه کې شئ:**

FR/ENG: 0491/56.05.23

NL/ENG: 0499/64.80.94

## کومې مرستې به تر لاسه کړم؟

د کډوالۍ چارو نړیوال اداره (آی، او، ام) به ستاسي د سفر د طيارې ټېکټ/ زميني تګ امکانات برابر کړي او همدارنګه به تاسي ته په هوايي ډګر کې ستاسي د سفر لپاره يو اندازه نغدي روپي درکړي. ستاسي د اصلي هېواد په تناسب تاسي ته به د بيا ميشته کېدو لپاره غېر نغدي مرستې هم درکړل شي چې دا به تاسې ته خپل هېواد ته دتګ او د بيا ځلې ميشته کېدو لپاره لمړني مرستې وي.

مخکې له تګ څخه ټولو ګډونوالوته ددوي لپاره د شته مرستو په هکله معلومات ورکړل شي او دوي ته به د کډوالۍ چارو نړيوال سازمان (آی، او، ام) د ادارهونو په هکله معلومات ورکړل شي.

13/05/2020